مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

نعمان دوست

۲۰۲/۱۰/۰۷

ګرانو مهاجرو ورونو!

فقط لږ نور هم دا وهل ډبول او بې عزتي وزغمئ چې انصارو رونو ته فنډ میلاو شو، نو بیرته به هرڅه ټهیک شي او بیا مزې کوئ.

خو ګورئ، د بل ځل وهلو او بې عزتۍ لپاره له اوسه پرکټس جاري ساتئ او شابئ ځانونه تکړه کړئ!

تاسو،

کوربنو ته طلايي مرغان یئ او هیچرې به مو داسې په اسانه له لاسه ور نکړي.

یا ایها المهاجرون!

هیڅ وطن ستاسو د دایمي مشکلاتو ذمه وار نه دی او نه ترې د مرحمت تمه کوئ.
مهاجرت هم یوه ټاکلي اندازه لري، نه چې سړی د تل لپاره پردي کور کې پښې وغځوي.

و مهاجرو!

اسلامي نظام مو غوښته، شکر دی راغی.
امنیت مو غوښتو، شکر دا هم ښه سم ټینګ شو.

نور چیشی غواړئ؟

که راشئ او خپلې پانګې هم راوړې نو دلته به هم کاروبار پیداشي.
تاسې اوس څه هلته د پارلیمنټ په کرسیو ناست یئ؟ خو خپله مزدوري او کاروبار کوئ، هغه دلته وکړئ.
او څوک چې پر کرسیو ناست دي او یا یې کرسیو والا سره لاین او ډاین دی، هغه هسې هم محفوظ دي.
د تاسو شتون، کوربه هیوادونو ته د فشار یوه ستره آله ده چې تل یې د دې ځاي په حکومتونو استعمال کړې او استعمالوي یې. خپل بېوسه وطن نور له دې بېخونده پردیو فشارونو خلاص کړئ.

ستاسو موجودیت هغوی ته د نړیوالو مرستو د جلبولو ذریعه ده، په خپلې بې عزتۍ پردي مه شتمن کوئ.
او...

والله که دا خبرې د پیغور له مخې کوم. باور وکړئ ستاسې روزانه بې عزتي مې ځوروي.

د خوشال بابا خبره:

"پروت په وینو کې لت پت ښه یم په پت کې
نه د سرو زرو په تخت باندې بې پته"

راشئ، باور وکړئ له هر ډول ستونزو سره سره، خپل وطن کې عزت شته.

له موږ خو زیات نه یئ، موږ چې ژوند کولای شو نو تاسې څه د پاریس شهزاده ګان یئ؟

مرحبا

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ